لوړو زده کـړو وزارت

سپین غــر دلوړو زده کـړو مؤسسه (ننگرهار)

محصلانو چارو معاونیت

محصلانو چارو آمریت

# کانکور ازموینې د ګډون او پوهنځیو کې د نویو محصلینو جذب کړنلاره (طرزالعمل)

کـــال: ۱۴۰۳ لمریز- ۱۴۴۶هـ ق

# لــــــړلیک

| موضوع: | صفحه |
|---|---|


مقدمه: ........................................................................................ 1

لومړۍ ماده، اهداف: ........................................................................ 1

دوهمه ماده، اصطلاحات: .................................................................... 2

دریمه ماده، په کانکور ازموینه کې د ګډون شرایط: ................................... 2

څلورمه ماده، د نویو محصلینو د جذب ظرفیت اندازه.................................. 3

پنځمه ماده، د کانکور ازموینې اخېستل: ................................................. 4

شپږمه ماده، د بریالیو نوماندانو د ثبت نام پروسه: .................................. 4

اتمه ماده، په پوهنځي کې د شمولیت شرایط: ........................................... 5

نهمه ماده، د تطبیق ساحه........................................................................ 5

مأخذونه: ......................................................................................... 6

بسم الله الرحمن الرحیم

**الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی رسوله محمد وعلی آله و اصحابه اجمعین وبعد.**

**مقدمه:**

دا طرزالعمل د لوړو زده کړو وزارت د خصوصي لوړو زده کړو مؤسسو مقررې (رسمي جریده) ۱۳۹۸ هـ.ش کال شپږم فصل د مادو او د افغانستان لوړو زده کړو خصوصي بنسټونو د نویو شاملېدونکو محصلینو د ازموینې (کانکور) او اساس کتابونو چمتو کولو کړنلارې په اساس د اجرأتو د همغږۍ کولو، کانکور ازموینه کې ګډون او اړونده پوهنځیو ته د محصلینو د جذب په برخه کې د شفافیت او د اصولي نظم د رامنځته کولو په موخه ترتیب شوی دی؛ تر څو د کانکور ازموینه کې د بریالیو محصلینو او واجد شرایط نوماندانو د جذب په برخه کې اصولي کړنې تر سره شي.

د دولسمو او څوارلسمو ټولګیو فارغان د کانکور د ازموینې په بریالیتوب سره له تېرولو وروسته چې د لوړو زده کړو وزارت تر نظارت لاندې اخیستل کېږي په مؤسسه کې د لوړو زده کړو وزارت اړوند تقنیني سندونو او سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې د طرزالعملونو او پالیسی مطابق سره سم د محصل په توګه منل کیږي.

په همدې اساس دا طرزالعمل په (۱۱) مادو کې ترتیب او اړونده شوراګانو کې له تائید وروسته په د اجراءاتو په موخه تطبیق او عملي شي.

## لومړۍ ماده، اهداف:

د نویو محصلینو د منلو طرزالعمل لاندې اهدافو ته د رسېدلو په موخه تدوین شوی دی:

1. کانکور ازموینو کې د دولسم او څوارلسم ټولګیو محصلینو ته په طبي برخو کې د لوړو زده کړو زمینه مساعدول.
2. سپین غر دلوړو زده کړو مؤسسې جدیدالشمول محصلینو ته په پوهنځیو کې د جذب په موخه اسانتیاوې برابرول.
3. د لوړو زده کړو وزارت اړوند اصول او معیارونه تطبیقول.
4. استعداد او وړتیا ته په کتلو سره اړونده رشتو ته د محصلینو جذبول.
5. په چارو کې همغږي، لا ښه والی او روښتیا رامنځته کول.

**دوهمه ماده، اصطلاحات:**

1. **محصل:** محصل هغه شخص دی چې د لسانس مقررې او نورو زده کړیزو لایحو سره سم د لیسانس په کچه یا له هغه څخه پورته د پوهې او مهارتونو د ترلاسه کولو لپاره ټاکلې برنامې تعقیبوي.
2. **نوماند:** د بکلوریا، فوق بکلوریا، او لیسانس په کچه هغه چاته نوماند ویل کېږي چې تر دولسم ټولګي پورې تعلیمي دوره یې بشپړه کړې وي او د لوړو زده کړو لپاره د لوړو زده کړو خصوصي بنسټونو تحصیلي پروګرامونو ته د لار پیدا کولو لپاره په کانکور ازموینه کې برخه اخلي.
3. **د کانکور ازموینه:** د ډلییزو ازموینو اخیستلو یوه شفافه پروسه ده، چې په پایله کې یې د نوماند وړتیا تثبیتېږي او د ټاکل شویو معیارونو پر بنسټ د خصوصي لوړو زده کړو بنسټونو لیسانس یا فوق لیسانس پروګرامونو ته د وړ محصلینو معرفي کېدو لامل کېږي.
4. **د نوملیکنې فورمه:** یوه معلوماتي پاڼه ده چې د لوړو زده کړو بنسټونو کانکور ازموینې لپاره د نوماند ټول معلومات او ځانګړتیاوې په کې درج شوې وي.
5. **اختصاصي کانکور:** د کانکور هغه پروسه ده چې د پوهنتنو نوعیت، د مضامینو په اساس د پوهنتنو ویش او ځانګو ته معرفي کېدل د ځانګړي میکانیزم په اساس ترسره کېږي.
6. **د شمولیت پروسه:** له هغه پروسې څخه عبارت ده چې پر بنیاد یې نوماند د کانکور ازموینې له لارې بریالی پیژندل شوی وي او د پاتي چارو د ترسره کولو لپاره مراجعه کوي تر څو د اساس په کتاب کې شامل او اړوند ټولګي ته رسمي ور وپیژندل شي.

**دریمه ماده، په کانکور ازموینه کې د ګډون شرایط:**

**الف: د عمومي کانکور ازموینې نوماندان.**

1. د نوم لیکنې پر مهال د تابعیت اصل تذکرې/پاسپورت درلودل.
2. د پوهنې وزارت له لوري د دولسم ټولګي تائید شوې شهادتنامې درلودل.
3. د اړوند پوهنې ریاست په تائید ددولسم ټولګي د فراغت تصدیق سند او دلیسې دورې درې کلنې نمرې.
4. د کانکور ازموینې خارج مرز نوماندان باید د هیواد دننه او بهر خپل اسناد اړونده ادارو له لوري ثبت او ارزیابي شوي وي.
5. د کانکور ازموینې د ګډون فیس تادیه کول.
6. څلور قطعې سپین بګراونډ لرونکي ۴X۳ اندازه عکسونه درلودل.
7. د نوم لیکنې فورم په دقیق ډول ډکول او ادارې ته سپارل.
8. د کانکور په ازموینه کې د شمولیت کارت ترلاسه کول.

**ب: اختصاصي کانکور ازموینې ګډونوال**

1. د نوم لیکنې پر مهال د تابعیت اصل تذکرې/پاسپورت درلودل.
2. اړونده رشته کې د عامې روغتیا وزارت څخه د فراغت تائید شوی څوارلسم ټولګي سند درلودل.
3. لږ تر لږه د نمراتو ٪ ۸۰ سلنه درلودل.
4. ۴X۳ اندازه څلور قطعې عکسونه درلودل.
5. د کانکور ازموینې د ګډون فیس تادیه کول.
6. د نوم لیکنې فورم په دقیق ډول ډکول او ادارې ته سپارل.
7. د کانکور په ازموینه کې د شمولیت کارت ترلاسه کول.

## څلورمه ماده، د نویو محصلینو د جذب ظرفیت اندازه:

د لوړو زده کړو خصوصي بنسټونو ته د شاملیدو اساسي شرط د لوړو زده کړو وزارت د نویو شاملیدونکو محصلینو د کړنلارې له احکامو سره سم په بریالیتوب سره د لوړو زده کړو خصوصي بنسټونو کانکور ازموینې ورکول دي، د لوړو زده کړو خصوصي بنسټونه هغه نوماندان نشي جذبولای، چې د ذکر شوي کړنلارې د احکامو سره سم یې د اړوند رشتې معیاري نمرې نه وي ترلاسه کړي.

سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسې (ننګرهار) په عمومي طب، غاښونو طب او طبي تکنالوژي پوهنځیو کې د محصلینو جذب د لوړو زده کړو وزارت د تقنیني سندونو، سپارښتنو، هدایاتو او د مؤسسې د جذب ظرفیت له مخې تر سره کیږي، د نویو محصلینو جذب ارقام د ډیپارټمنټونو او پوهنځیو له خوا امکاناتو او ظرفیت ته په کتلو سره چمتو کیږي چې په لاندې ډول دي:

سپین غر دلوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) (عمومي طب، غاښونو طب او طبي تکنالوژي) پوهنځیو په لیسانس پروګرامونو کې د محصلانو جذب تنظیموي.

1. د لوړو زده کړو خصوصي بنسټونه چې له لوړو زده کړو وزارت څخه یې بشپړ اکاډمیک اعتبار ترلاسه کړی وي کولای شي، چې په پورته ذکر شویو لیسانس پروګرامونو کې حد اکثر (120) تنه جذب کړي.
2. د لوړو زده کړو هغه خصوصي بنسټونه چې د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکولو دویم پړاو یې بشپړ کړی وي، کولای شي چې په پورته ذکر شویو لیسانس پروګرامونو کې حد اکثر (100) تنه جذب کړي.
3. د لوړو زده کړو هغه خصوصي بنسټونه چې د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکولو لومړی پړاو یې بشپړ کړی وي، کولای شي چې په پورته ذکر شویو لیسانس پروګرامونو کې حد اکثر (80) تنه جذب کړي.
4. د لوړو زده کړو هغه خصوصي بنسټونه چې د لوړو زده کړو وزارت د کیفیت د لوړاوي او اعتبار ورکولو هیڅ پړاو یې نه وي بشپړ کړی ، کولای شي چې په پورته ذکر شویو لیسانس پروګرامونو کې حد اکثر (60) تنه جذب کړي.

**پنځمه ماده، د کانکور ازموینې اخېستل:**

1. د کانکور ازموینې اخیستلو اجازه د لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو او مؤسساتو ریاست او یا / د ازموینو ملي اداري څخه رسماً اخیستل کیږي.
2. د کانکور ازموینې اخیستلو لپاره د لوړو زده کړو وزارت څخه د ازموینې اخیستلو پلاوی د را معرفت غوښتنه کیږي.
3. د کانکور ازموینه د لوړو زده کړو وزارت له لورې د ګمارل شوي پلاوي په مشرۍ او نظارت لاندې اخیستل کیږي.
4. ګمارل شوی پلاوی د سوالونو ترتیب، ازموینې ترسراوي، ځواب پاڼو کتل او د ازموینې نتیجه د مؤسسې له ادارې سره په ګډه اړونده چارې ترسره کوي.

**شپږمه ماده، د بریالیو نوماندانو د ثبت نام پروسه:**

په کانکور ازموینه کې بریالي شویو نوماندانو لپاره پوهنځي ته د معرفي کېدو پر مهال ځانګړې دوسیه خلاصیږي تر څو یې تحصیلي سندونه د مؤسسې محصلانو چارو آمریت اړوند د محصلینو اسنادو ثبت، راجستر او آرشیف مدیریت د محصل په دوسیه کې خوندي کړي، چې په لاندې ډول دي:

**الف: د شخصي معلوماتو فورمه.**

د نوم لیکونکي په اړه د تذکرې له مخې ټول مشخصاتو او معلوماتو د راټولولو په موخه تهیه شوي پاڼه ده چې د محصل او په مؤسسه کې د محصلانو اړوند خواوو له لورې لاسلیک کیږي.

**ب: ژمنلیک.**

د نوم لیکونکي شخص څخه د ټولو اصولو، د هیواد نافذه قوانینو، مقرراتو او لوائحو په وړاندې د ژمنې اخیستلو پاڼه ده چې د محصل او د هغه د سرپرست (ولي) له لوري لاسلیک کیږي.

**ج:د کانکور ازموینې شمولیت کارت**

په کانکور ازموینه کې د شمولیت کارت د محصلانو چارو آمریت له لورې د نوملیکنې د اسنادو د بشپړتیا څخه وروسته ورکول کېږي.

**اوومه ماده، د معلومات ارائیه کول:**

بریالي شویو نوماندانو ته په سپین غر د لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) کې د جذب څخه وړاندې دشمولیت او جذب ټول اصول او شرطونه د حق الشمول (داخله)، حق الاجرت (فیس)، امکانات، او نور اړین معلومات ورکول کیږي.

## اتمه ماده، په پوهنځي کې د شمولیت شرایط:

1. کانکور ازموینه کې د کامیابېدو وروسته د مؤسسې د محصلانو چارو آمریت څخه ژمنلیک ترلاسه کول او د معلوماتو له درج وروسته سپارل.
2. د ځانګړې مرکې/مصاحبې لپاره د مشخص شوي هیئت/غړي سره مرکه ترسره کول.
3. مالي آمریت څخه د ERP Enterprise Resources Planning سیستم د Account پرانیستلو غوښتنه کول او ډاډ ترلاسه کول.
4. مالي آمریت سره د تائید او لاسلیک شوي ژمنلیک شریکول.
5. د محصل له لورې د اړونده پوهنځي د سمستر د لومړني قسط فیس تادیه کول.
6. محصل باید ډاډ ترلاسه کړي چې د تدریسي مدیریت له لورې ERP سیستم په Main Class کې په ځانګړي ID سره د پوهنځي اړونده ټولګي ته معرفي شویدی.
7. د اړونده ټولګي په حاضري کتاب کې د نوم د موجودیت څخه ډاډ ترلاسه کول.
8. د محصلانو چارو معاونیت اړوند د محصلانو چارو آمریت د اساس په کتاب کې د نوم د ثبت او موجودیت څخه ډاډ ترلاسه کول.
9. د محصل لپاره دځانګړي شوي پیژندکارت غوښتنه کول.

## نهمه ماده، د تطبیق ساحه

د کانکور ازموینې د ګډون او پوهنځیو کې نویو محصلینو د جذب طرزالعمل د لوړو زده کړو وزارت لوائحو په اساس لس مادو کې ترتیب شوی او په سپین غرد لوړو زده کړو مؤسسه (ننګرهار) د درې ګونو پوهنځیو کې د جذب په هدف د نشر او اعلان وروسته د تطبیق وړ دی.

**لسمه ماده ماده، طرزالعمل، تعدیل او الغاء:**

په دې طرزالعمل کې د درج شویو مواردو اتعدیل او الغاء سپین غر دلوړو زده کړو مؤسسې د علمي شورا صلاحیت دی چې د لوړو زده کړو وزارت د اصولو، پالیسیو، او معیارونو په نظر کې نیولو سره ممکن دی.

**مأخذونه:**

1. د لسانس ددورې زده کړې مقرره، 1398 هـ ش، خپربدو نېټه 1399، پرلپسې نمبر(1382)
2. د لوړو زده کړو خصوصي بنستیونو د نویو شاملېدونکو محصلانو د ازموینې (کانکور) او اساس کتابونو د چمتو کولو کړنلاره، ۲۹ ذوالحجه ۱۴۴۴، ۲٦ سرطان ۱۴۰۲ هـ ش
3. سپین غردلوړو دزه کړو مؤسسې د محصلینو لارښود کتاب.
4. د نویو محصلانو د منلو لایحه، 1400.

**طرزالعمل تائید.**

**الف: محصلانو چارو معاونیت شورا.**

کانکور ازموینې د ګډون او پوهنځیو کې د نویو محصلینو جذب کړنلاره محصلانو چارو معاویت شورا د ( ۲۲ / ۳ / ۱۴۰۳) نېټه ( ۳ ) ګنه پروتوکول کې ثبت او تائید ده.

هدایت الله سعید

محصلانو چارو امر

فضل الرحمن ریال

د محصلانو چارو مرستیال

**ب: مؤسسې علمي شورا.**

کانکور ازموینې د ګډون او پوهنځیو کې د نویو محصلینو جذب کړنلاره سپین غر دلوړو زده کړو مؤسسې علمي شورا د ( ۲۸ / ۸ / ۱۴۰۳) نېټه ( ۱۰ ) ګنه پروتوکول کې ثبت او تائید ده.

عبادت مومند

علمي شورا منشي

شمس الدین همت

علمي شورا مشر